اوونیزه
# هفته نامه معارف

د پوهنې وزارت خبري، ادبي او ټولنیزه خپرونه

سال تأسیس: ۱۴۲۳ هـ ق. مطابق ۱۳۸۱ هـ ش. شماره مسلسل (۳۱۹) ماه شعبان المعظم ۱۴۴۷ هـ ق. مطابق ماه دلو ۱۴۰۴ هـ. ش.

**بعد از یک بار فاتحه دوباره رفتن به خانه متوفی به نیت فاتحه مکروه است.**

فرمان عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی در مورد جلوگیری از رواج های نادرست هنگام خویشی، عروسی ها، مصیبت ها و همچنان بازگشت از حج و عمره

## د «ماشوم ادبیات او د هغوی د روزنې لارې چارې» تر سرلیک لاندې د علومو اکادمۍ له لوري علمي سیمینار جوړ شو



د پوهنې وزارت د مقام د دفتر لوی رئیس، شیخ محمد طاووس طارق، د علومو اکادمۍ له لوري د «ماشوم ادبیات او د هغوی د روزنې لارې چارې» تر سرلیک لاندې جوړ شوي علمي سیمینار کې ګډون وکړ او د پوهنې محترم وزیر، الحاج مولوي حبیب‌الله آغا، پیغام یې ګډونوالو ته ولوست.

د پوهنې محترم وزیر په خپل پیغام کې ماشومان د ټولنې د راتلونکي بنسټ بللي او د اسلامي ارزښتونو پر بنسټ یې د هغوی پر سالمې...

۲مخ

## دیدار معین تضمین کیفیت با هیئت نظارت امتحانات مشترک طلاب العلم مدارس

محترم الحاج مولوی عبدالخالق صادق معین تضمین کیفیت وزارت معارف با اعضای هیئت نظارت بر پاسخ نامه‌های امتحانات مشترک دوره های ثانویه و مافوق ثانویه طلاب العلم مدارس دینی داخل ملک و دارالهجرت دیدار و ملاقات کرد.

معین محترم تضمین کیفیت وزارت معارف در این دیدار، در پیوند به نقش علماء کرام در اصلاح جامعه صحبت کرده و بیان داشتند که امتحانات نماد ارتقاء سطح علمی شاگردان و نمایانگر کیفیت تدریس است، به همین دلیل هر سال بر اساس تجربیات سال های گذشته، اصلاحات جدیدی و تغییرات مثبت به منظور بهبود فرآیندهای تعلیمی صورت می‌گیرد.

## سفر مشاور ارشد وزارت معارف به ولایت بدخشان

محترم الحاج مولوی سید غیاث‌الدین آغا، مشاور ارشد مقام وزارت معارف، در رأس یک هیئت به ولایت بدخشان عزیمت نموده و با محترم الحاج مولوی محمد طاهر جواد، رئیس معارف آن ولایت دیدار کرد.

این هیئت در جریان سفر بر علاوه دیدار از آمریت های معارف شهر و پنج ولسوالی ولایت بدخشان با مسئولان و شاگردان نیز دیدار کرد.

این سفر به هدف هماهنگی بیشتر میان وزارت و ریاست های معارف ولایات، بررسی وضعیت آموزشی و ارزیابی پلان های جاری تعلیمی در سطح ولایت برنامه ریزی شده بود.

## د پوهنې وزارت محترم مقام او رهبرۍ لخوا، د مرکزي هستې یو شمېر رئیسان وستایل شول

د پوهنې وزارت محترم رهبرۍ له لوري، د یاد وزارت ۲۱ تنه مرکزي رئیسان د هغوی د اغېزناکو خدمتونو له امله وستایل شول.

غونډه د قرآن کریم د څو مبارکو آیتونو په تلاوت سره پیل شوه؛ ورپسې د پوهنې وزارت د کیفیت تضمین معین محترم الحاج مولوي عبدالخالق صادق وینا وکړه.

نوموړي د خپلې وینا په ترځ کې د رسول الله ﷺ د دغه مبارک حدیث په استناد وویل: (هغه څوک چې د خلکو د احسان شکر نه ادا کوي، د الله تعالی شکر هم نه ادا کوي).

بناغلي معین د یادو رئیسانو هڅې وستایلې او ارونده مسئولینو ته یې د هغوی د ترسره کړو خدمتونو له امله مبارکي وویله او هغوی یې لا زیاتو، اغېزناکو او دوامدارو خدمتونو ته سره کولو ته وهڅول.



همدارنګه، ستایل شویو رئیسانو د پوهنې له محترم مشرتابه څخه د دغه باور او ستاینې له امله خپله خوښي څرګنده او ژمنه یې وکړه چې، د پوهنې د پرمختګ او لا ښه خدمت لپاره به خپلو هڅو ته لا پسې دوام ورکړي.

د غونډې په پای کې د اسلامي زده کړو معین او د وزارت کفیل محترم الحاج مولوي کرامت الله آخندزاده له لوري رئیسانو ته ستاینلیکونه ورکړل شول او غونډه د دعائیې په لوستلو سره پای ته ورسېده.

## په هلمند کې د ۲۳،۱ میلیونه افغانیو په لګښت د یوباب ښوونځي ودانۍ پرانیستل شوه



په هلمند ولایت کې د زده‌کړې د پراختیا او ماشومانو ته د زده‌کړې د لاسرسي په موخه، په قلعه‌بست ولسوالۍ کې د خاري ښوونځي نوې ودانۍ د ۲۳،۱ میلیونه افغانیو په لګښت جوړه او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه. دغه نوې ودانۍ چې د یوه همکار بنسټ په مالي مرسته جوړه شوې، ۱۶ درسي ټولګي لري او له ټولو اړینو تعلیمي آسانتیاوو برخمنه ده.

د ودانۍ د پرانیستې په مراسمو کې د هلمند ولایت د پوهنې رئیس محترم الحاج مولوي محمد عوض انصاري، په ټولنه کې د زده‌کړې پر ارزښت ټینګار وکړ او د ودانۍ د دوامدارۍ او مناسبې کارونې او د ښوونیز بهیر د پیاوړتیا په اړه یې هم خبرې وکړې.

په همدې حال کې د سیمې اوسېدونکو هم ددوی په سیمه کې د یاد ښوونځي له جوړېدو خوښي څرګنده کړه او د علم او پوهې په پراخولو او په محرومو سیمو کې هېوادوالو ته د زده کړې زمینې برابرولو په برخه کې د پوهنې وزارت هڅې او لاسته راوړنې بې ساري وبللې.

## د پوهنې وزارت د دعوت او ارشاد ریاست پلاوي د کاپیسا ولایت له پوهنې ریاست څخه لیدنه وکړه

د پوهنې وزارت د دعوت او ارشاد ریاست د مرستیال محترم مولوي بسم‌الله حسان په مشرۍ پلاوي، کاپیسا ولایت ته د خپل رسمي سفر پرمهال، د یاد ولایت د پوهنې له رئیس محترم الحاج مولوي محمدفرید حقاني، د تدریسي چارو مرستیال محترم الحاج استادخان‌آقا هارون، د کیفیت تضمین آمر، د ولسوالیو پوهنې آمرینو، عمومي مدیرانو او د یاد ریاست کارکوونکوسره وکتل.

د کاپیسا ولایت پوهنې رئیس له لوري ورغلي پلاوي ته د هرکلي ترځنګ، د دعوت او ارشاد ریاست د درسي حلقو د ارزښت یادونه وکړه او ویې ویل چې د یادو درسونو زده‌کړه د ټولنې اړتیا ده.

ورپسې د پوهنې وزارت د دعوت او ارشاد ریاست مرستیال د ایمان پر پیاوړتیا او د الهي لارښوونو پر عملي کولو هر اړخیزې...

۲مخ

## در این شماره

راځئ چې د پوهې په عاملو سره د ملک لویې ګټې خوندي کړو! — ۲مخ

آغاز روند توزیع کتاب و مواد درسی در ولایت لوگر — صفحه ۲

د روژې فضیلت او لوړ مقام — ۳مخ

سرمقاله

# راځئ چې د پوهې په عاملو سره د ملک لویې ګټې خوندي کړو!

بسم الله الرحمن الرحیم

اَلحَمدُلِلّهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلَوٰةُ وَالسَّلامُ عَلَی سَیِّدِالمُرسَلِینَ وَ عَلَی آلِهِ وَأَصحَابِهِ أَجْمَعِیْنَ

پوهه د ملتونو د پایښت، ثبات او دوامدار پرمختګ بنسټیزه وسیله ده. د نړۍ د پرمختللو ملکونو تجربې ښيي چې د زده‌کړې پراختیا او د علم عامول نه یوازې د ټولنیز پرمختګ لامل ګرځېدلی، بلکې د ګټو د ساتنې لپاره یې تر ټولو اغېزمنه لار برابره کړې ده. له همدې امله د علم او پوهې پراختیا د دولتونو له اساسي مسؤلیتونو څخه ګڼل کېږي او د هغې پیاوړتیا د ملک د راتلونکي تضمین بلل کېږي.

په هغو ټولنو کې چې پوهه عامه شوې ده، اتحاد ټینګ شوی، د ناپوهۍ پر وړاندې مبارزه رامنځ ته شوې او خلک د ملي ارزښتونو د ساتنې جوګه شوي. خو برعکس د زده‌کړې نه شتون د فکري کمزورۍ، ټولنیزه بې‌ثباتۍ او د پردیو د منفي اغېزو د پراخېدو لامل شوی دی. له همدې امله فکري امنیت د ملي امنیت یوه نه بېلېدونکې برخه ده، او دا امنیت یوازې د ښوونې او روزنې له لارې ټینګېدای شي.

اقتصادي ځان‌بسیاینه هم د معارف له پیاوړتیا سره نېغ په نېغه اړیکه لري. مسلکي زده‌کړې، تخنیکي مهارتونه او علمي ورتیاوې هغه بنسټونه دي چې پر مټ یې یو ملک کولی شي خپلې طبیعي او انساني سرچینې په اغېزمنه توګه وکاروي. هغه نسل چې د علم او پوهې په ګانه سمبال وي د کار موندنې تر څنګ د تولید، نوښت او پانګونې توان هم لري، چې دا چاره د فقر د کمېدو او د ملي اقتصاد د ودې لامل ګرځي.

معارف د ماشومانو او ځوانانو د سالمې روزنې لپاره حیاتي ارزښت لري. هغه ټولنه چې زده‌کړه پکې پراخه وي، د تبعیض، تاوتریخوالي او بې‌عدالتۍ کچه پکې راټیټېږي او د متوازنې ټولنیزې ودې زمینه برابرېږي.

سربېره پر دې، پوهه د ملي هویت او کلتوري ارزښتونو ساتونکې ده. د خپل تاریخ، ژبې او فرهنګ په اړه پوهاوی ولس د فکري یرغلونو پر وړاندې پیاوړی کوي او د فکري خپلواکۍ بنسټ ټینګوي. معارف کولای شي راتلونکی نسل داسې وروزي چې پر خپلو اسلامي او ملي ارزښتونو ویاړ وکړي او د عصري نړۍ له غوښتنو سره په متوازن ډول ځان عیار کړي.

د افغانستان اسلامي امارت د پوهنې وزارت د خپل مسؤلیت له مخې تل هڅه کړې او کوي یې چې د دیني او عصري علومو د پراختیا له لارې د پوهې د عامولو زمینه نوره هم پراخه کړي. خو دا مسئولیت یوازې د پوهنې وزارت پر مټ نه شي پوره کېدای. کورنۍ، علمي بنسټونه، رسنۍ، ښوونکي او ټولنه په ګډه باید د زده‌کړې د ارزښت په ترویج کې ونډه واخلي، څو علم د ټولنې تر هر کور او هر وګړي پورې ورسېږي.

په پای کې، د هېواد د لویو ملي ګټو ساتنه د معارف له پیاوړتیا پرته ممکنه نه ده. که نن پر زده‌کړه پانګونه وشي، سبا به یې پایله د ثبات، پرمختګ او یووالي په بڼه څرګنده شي. راځئ د پوهې په عامولو سره داسې راتلونکی جوړ کړو چې زموږ هېواد پکې پر ځان متکي، باعزته او د دوامدار پرمختګ پر لور روان وي.

## آغاز روند توزیع کتاب و مواد درسی در ولایت لوگر



روند توزیع کتاب‌های درسی و هفت قلم مواد ممد درسی برای ۲۹۰ باب مکتب در ولایت لوگر آغاز شد.

این کتاب‌ها و مواد درسی از سوی وزارت معارف تهیه گردیده که ارزش آن به حدود ۲ میلیون افغانی می‌رسد.

در این روند، ۱۴۷ هزار جلد کتاب درسی و مواد مورد نیاز درسی از صنف سوم تا ششم شامل می‌باشد که از طریق مدیریت‌های معارف مرکز و ولسوالی‌ها به مکاتب توزیع خواهد شد.

## د پوهنې وزارت د تشکیلاتو رئیس ننګرهار ولایت ته سفر وکړ

د پوهنې وزارت د تشکیلاتو رئیس محترم مفتي عبدالحلیم حلیمي ننګرهار ولایت ته سفر وکړ او هلته یې د پوهنې له رئیس محترم شیخ محمد شریف حلیمي او د پوهنې له آمرینو سره وکتل.

په دې لیدنه کې د ننګرهار ولایت د پوهنې محترم رئیس د ورغلي پلاوي هرکلی وکړ او د پوهنې ریاست له لوري یې د پلاوي د موخو پلي کېدو په برخه کې د هر اړخیزې همکارۍ ډاډ ورکړ. وروسته د پوهنې وزارت پلاوي د یاد ولایت د پوهنې ریاست له فعالیتونو او لاسته راوړنو ستاینه وکړه او د مطرح شوو موضوعاتو د څېړنې او ستونزو ته د رسېدنې په برخه کې یې ډاډ څرګند کړ. همداراز یې وویل چې د اړوندو ادارو د تشکیلاتي بهیر پر وړاندې د شته ستونزو او ننګونو د حل لپاره باید لازمه همغږي او همکاري موجوده وي.

## اخذ امتحان تثبیت سویه از مهاجران بازگشته به کشور در ننگرهار

از سوی مسئولان ریاست معارف ولایت ننگرهار از ۱۰۰۰ تن شاگردان مهاجر بازگشته به ملک از صنف هفتم الی یازدهم امتحان تثبیت سویه تعلیمی اخذ گردید.

مطابق طرزالعمل وزارت معارف، آن عده شاگردانی که دارای سن بلندتر باشند، به لیسه‌های شبانه معرفی خواهند شد.

این امتحان تحت نظارت هیئت های موظف ریاست معارف ننگرهار به گونه منظم برگزار گردیده است.

## برگزاری سیمینار ارتقای ظرفیت برای آمرین و مدیران مکاتب شهر کابل

ریاست معارف شهر کابل با هماهنگی ریاست تربیه معلم و انکشاف مسلکی معلمین، سیمینار دو روزه‌ای را برای ۳۴۳ تن آمرین و مدیران مکاتب مربوط به نواحی ۱۶ گانه شهر کابل به هدف ارتقای ظرفیت مسلکی آن ها برگزار کرد.

هدف این سیمینار که از سوی استادان ریاست تربیه معلم و انکشاف مسلکی معلمین برگزار شده است، تقویت امور اداری و تدریسی مکاتب، ارتقای سطح دانش مسلکی مدیران و آمران مکاتب و توسعه مهارت‌های مسلکی آنان می باشد.

## په ننګرهار کې د مدارسو د طلابو تر منځ د «صرف او نحوې» سیالۍ پیل شوې

د پوهنې وزارت د اسلامي زده‌کړو معینیت د مدارسو او دارالحفاظونو ریاست له لوري په ننګرهار ولایت کې د مدارسو د طلابو علمي پوهې لوړولو او پراختیا په موخه د ۲۴۵ تنو طلاب العلم تر منځ د «صرف او نحوې» علمي سیالۍ پیل شوې.

همدا راز دغه سیالۍ د لغمان ولایت د مدارسو د ۶۰ تنو زده‌کوونکو تر منځ هم ترسره شوې. د پروګرام د پیل په مراسمو کې مسئولینو له استادانو او د سیالیو له څارونکو پلاوي غوښتنه وکړه، چې د ازموینې بهیر په دقیقه توګه وڅاري او پر روڼتیا او عدالت د ټینګار تر څنګ، د ازموینې نظم او ډسپلین مراعات کړي.

## برگزاری سیمینار آموزشی برای شماری از معلمان در ولایت بامیان

به منظور بلند بردن ظرفیت‌های مسلکی معلمان و تقویت روند آموزشی، سیمینار های ظرفیت سازی برای ۱۳۵ تن معلم در ولایت بامیان آغاز گردید.

همچنان محترم قاری عنایت‌الله سهار رئیس معارف ولایت بامیان، از سیمینار سه روزه ارتقای ظرفیت های مسلکی معلمان ولسوالی ورس نیز بازدید نمود.

## از سوی وزارت زراعت، آبیاری و مالداری ۵۰ جریب زمین به معارف انتقال داده شد

در نشستی که در ریاست توزیع و انتقال زمین اداره اصلاحات اراضی، وزارت زراعت آبیاری و مالداری به اشتراک محترم سمیع الحق حماس رئیس حفظ و مراقبت تاسیسات و املاک وزارت معارف و محترم مولوی محمد فاروق امرخیل آمر تبادله دایر شده بود.

به تأسی از حکم مقام عالی رهبری امارت اسلامی افغانستان مبنی بر حمایت و توسعه زیر ساخت های تعلیمی در وزارت معارف، وزارت زراعت آبیاری و مالداری به مساحت ۵۰ جریب زمین که در شهر ترینکوت مرکز ولایت ارزگان موقعیت دارد به هدف ساخت یک باب مدرسه جهادی اهدا و انتقال داده شد.

اسناد زمین مذکور از طرف مسئولان متذکره امضا و زمین یادشده رسماً ثبت جایداد های وزارت معارف شد.

## په پکتیا ولایت کې د ۳ بابه ښوونځیو لپاره د لمریزې برېښنا سیستم فعال شو

د پکتیا ولایت، مرکز ګردیز اړوند د ۳ بابه ښوونځیو لپاره د یوې همکارۍ ادارې په مالي ملاتړ د ۳۰۷ زره افغانیو په لګښت د لمریزې برېښنا سیستمونه فعال شول.

په یادو سیستمونو کې د هر ښوونځي لپاره ۵۵۰ واټه لمریز پلېټونه، انورټرونه، فلټرونه، کېبلونه او نور اړین برېښنایي تجهیزات شامل دي.

د پکتیا ولایت د پوهنې رئیس له یادې مرستې مننه وکړه او ویې ویل، چې د ښوونځیو لپاره د برېښنا سیستمونه د تعلیمي او اداري چارو د منظم پرمخ وړلو لپاره مهم ارزښت لري.

**د «ماشوم ادبیات او د هغوی د روزنې لارې چارې» ...**

ښوونې او روزنې ټینګار کړی. نوموړي د یاد سیمینار دایرېدل یو مهم علمي نوښت بللي او د ورته علمي پروګرامونو د دوام غوښتنه یې وکړې وه.

**د پوهنې وزارت د دعوت او ارشاد ریاست ...**

خبرې وکړې او زیاته یې کړه چې د علم لاسته راوړل او د الهي ارشاداتو پلي کول هغه لارې دي، چې انسان کمال او بریا ته رسوي او پرته له علمه پرمختګ ناشونی دی.

په ورته مهال نورو مسئولینو هم د الهي ارشاداتو د زده‌کړې پر اړتیا ټینګار وکړ.

د یادونې وړ ده چې یاد پلاوی ددې سفر پرمهال په یو شمېر آمریتونو کې د دعوت او ارشاد درسي بهیر څخه هم لیدنه وکړه.

## لنډ خبرونه

**بادغیس**

د بادغیس ولایت پوهنې ریاست د یاد ولایت په لسو ولسوالیو کې د ښوونځیو له ۱۵۸ تنو مدیرانو، اجرائیوي مدایرانو او سرښوونکو لپاره د "اغېزمن تدریس او زده‌کړې ترویج" په اړه درې ورځنی روزنیز ورکشاپ تر سره شو.

**پکتیا**

د پکتیا ولایت پوهنې ریاست ودانۍ په ګډون یوه مدرسه او د دې ولایت په مرکز او زرمت، شواک، احمدآباد او جاني‌خېل ولسوالیو کې ۷ بابه ښوونځي د ۵.۴ مېلیونه افغانیو په لګښت ترمیم او ورغول شول.

**پنجشــــیر**

سیمینار ۴ روزه ارتقای ظرفیت‌های مسلکی از سوی وزارت معارف برای اعضای انکشاف مسلکی معلمین در ولایت پنجشیر، با حضور مسئولین معارف آن ولایت آغاز شد.

**کندز**

ورکشاپ ۸ روزه آموزشی از سوی وزارت معارف برای ۱۴۰ تن از معلمین مطابق رشته و خلاف رشته مضامین ساینسی و ریاضیات، در ولایت کندز برگزار شد.

**بلخ**

سیمینار یک روزه تشریح قانون امر بالمعروف و نهی عن‌المنکر برای مسئولین و کارمندان هسته مرکزی و آمریت های معارف ولسوالی های ولایت بلخ دایر شد.

**دایکنډي**

د کجران او کیتي ولسوالیو د ښوونځیو ښوونکو او آمرینو د مسلکي ورتیاوو لوړولو په موخه، «د اغېزمنې زده‌کړې او پوهنې ترویج» په نوم د شپږ ورځني تعلیمي ورکشاپ پروګرام پیل شو.

**بدخشان**

د پوهنې ریاست مسئولین وایي چې د روان ښوونیز کال په بهیر کې، د پوهنې وزارت د ټکنالوژۍ او ساینس مرکز ریاست په همکارۍ، د فیض آباد ښار سربېره په یو شمېر ولسوالیو کې د ښوونځیو ۱۱۵ بابه ښوونیز آزموینښتونونه په اړینو درسي توکو سمبال شوي.

**سرپل**

سیمینار ۶ روزه ارتقای ظرفیت‌های مسلکی برای ۸۰ تن از معلمان مضامین ساینس و ریاضی در ولسوالی سانچارک ولایت سرپل آغاز شد.
به گفته مسئولین معارف آن ولایت، این سیمینار به هدف ارتقای مهارت‌های عملی، بهبود شیوه‌های تدریس و معیاری‌سازی روند آموزش برگزار شده است.

**فاریاب**

از سوی ریاست معارف ولایت فاریاب برای ۲۰ تن معلمین صنوف تقویتی مکاتب مرکز و ولسوالی‌های ولایت مذکور جهت تدریس بهتر بسته های مواد ممد درسی توزیع گردید.
مسئولین معارف ولایت فاریاب می گویند معلمانی مذکور برای تدریس ۶۲۰ تن شاگردان صنوف تقویتی توظیف شده اند تا از این مواد بتوانند پلان درسی و نصاب تعلیمی وزارت معارف را به اساس معیار های آموزشی تطبیق و سطح سویه تعلیمی دانش آموزان را ارتقا بخشند.

## د صدقه ورکولو فائده او نتیجه

ابو بکر الخبازي رحمه الله ویلي: زه په ډېر سخت مرض اخته وم، زما یو نېک همسایه راغلو، کله یې چې زما حالت ولید، نو راته یې وویل: د رسول الله ﷺ دا وینا عملي کړه چې فرمایي: (خپل ناروغان په صدقې سره تداوي کړئ.)
هغه وخت د ګرمۍ موسم و، ما یوڅه هندوانې له دوکان و پېرلې، فقیران او ماشومان مې راټول کړل هغوی وخوړلې بیا یې الله تعالی ته لاسونه پورته کړل او زما د شفا دعاء یې وکړه. قسم په الله! چې سهار راویښ شوم الله تعالی بشپړه روغتیا راکړې وه او روغ رمټ وم.
(سیر أعلام النبلاء ج۱۸ ص٤٤).
**مفتي حکیم الله صابر.**

## آیا کوه‌ها، میخ‌های زمین اند؟



قرآن مجید، کوه‌ها را تنها بخشی از زیبایی طبیعت یاساختار زمین نمی‌داند، بلکه به یک حقیقت عمیق علمی اشاره می‌کند.
خداوند ﷻ می‌فرماید:
(وَأَلْقَىٰ فِي الْأَرْضِ رَوَاسِيَ أَن تَمِيدَ بِكُمْ)
(سوره نحل، آیه ۱۵)
ترجمه: «و در زمین کوه‌هایی استوار نهاد تا شما را دچار لرزش نکند.»
امروزه زمین‌شناسی نشان می‌دهد که کوه‌ها فقط صخره‌هایی نیستند که ما در سطح زمین می‌بینیم، بلکه ریشه‌های عمیقی در دل زمین دارند که به آن‌ها ریشه‌های کوه گفته می‌شود، این ریشه‌ها باعث تثبیت صفحات تکتونیکی زمین می‌شوند، دقیقاً همان‌طور که میخ‌ها یک چادر را محکم نگه می‌دارند.
طبق علم امروز، اگر کوه‌ها وجود نداشتند، صفحات زمین بسیار ناپایدار می‌شدند و زمین‌لرزه‌ها و حرکات شدید زمین امری عادی بود.
همین حقیقت را قرآن کریم ۱٤٤۷ سال پیش، با بیانی ساده اما پرمعنا بازگو کرده است.
تصور اینکه «کوه‌ها میخ‌های زمین هستند» فقط یک تشبیه نیست، بلکه واقعیتی علمی است که تحقیقات جدید آن را تأیید می‌کند. این از اعجازهای قرآن است که انسان را به تفکر وامی‌دارد.

## د روژې فضیلت او لوړ مقام

روژه د اسلام له مهمو عبادتونو څخه ده چې هم د انسان روح پاکوي او هم یې له ګناهونو څخه ساتي. د روژې په اړه په احادیثو کې ډېر فضیلتونه بیان شوي دي. دلته درې مهم احادیث او د هغوی لنډ وضاحت وړاندې کېږي:

**۱ ـ روژه د انسان لپاره ډال دی**

له حضرت ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل:
(الصیام جُنَّةٌ)
(رواه البخاري ج ۳ ص ۲۴ رقم ۱۸۹۴ )
ژباړه : روژه یو ډال (سپر) ده.
تشریح: لکه څنګه چې ډال انسان د دښمن له برید څخه ساتي، همداسې روژه انسان له ګناهونو او د دوزخ له اور څخه ساتي. روژه نفس کمزوری کوي، شیطاني وسوسې راکموي او انسان له بدو خبرو، شخړو او ناروا کارونو څخه ژغوري. هغه څوک چې په اخلاص روژه نیسي، په حقیقت کې د ځان لپاره د ساتنې یو قوي وسیله برابروي.

**۲ ـ د روژې ځانګړی اجر**

له حضرت ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل، الله تعالی فرمایي:
(کل عمل ابن آدم له إلا الصوم فإنه لي وأنا أجزي به)
(رواه البخاري ج ۷ ص ۱۶۴ رقم ۵۹۲۷ )
ژباړه: د آدم د زوی هر عمل د هغه لپاره دی، خو روژه زما لپاره ده او زه به خپله د هغې بدله ورکوم.
تشریح:
نور عبادتونه خلک لیدلای شي، خو روژه یو پټ عبادت دی چې یوازې الله تعالی یې حقیقت پېژني. د همدې لپاره د روژې اجر ځانګړی او بې حسابه دی. دا حدیث د روژې لوړ مقام او ځانګړی ارزښت څرګندوي.

**۳ ـ د روژه‌دارانو لپاره د جنت ځانګړې دروازه**

له حضرت سهل بن سعد رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل:
«إن في الجنة بابًا یقال له الریان، یدخل منه الصائمون یوم القیامة، لا یدخل منه أحد غیرهم»
(رواه البخاري ج ۳ ص ۲۵ رقم ۱۸۹۶ )
ژباړه: په جنت کې یوه دروازه ده چې "ریان" نومېږي. د قیامت په ورځ به یوازې روژه‌داران ترې ننوځي، بل څوک به ترې داخل نه شي.
تشریح:"ریان" د سیراب کېدو معنا لري، ځکه روژه‌داران په دنیا کې د الله تعالی لپاره لوږه او تنده زغمي. دا د روژه‌دارانو ځانګړی عزت او مقام دی او څرګندوي چې روژه انسان د جنت لوړو درجو ته رسوي.

## د سکون او آرام ژوند لپاره ۵ سپارښتنې

یوه ورځ له یوه عالم څخه پوښتنه وشوه: څنګه دومره لوی سکون او آرام ته رسېدلی یې؟
عالم ورته وویل : دا له کلونو کلونو مطالعې او تجربې وروسته مې خپل ژوند د دې پنځو اصولو پر بنسټ جوړ کړ :
۱- پوه شوم، چې رزق مې بل څوک نه شي خوړلی؛ نو آرام شوم .
۲- پوه شوم، چې خدای جل جلاله مې هر وخت ویني؛ نو حیا مې اختیار کړه .
۳- پوه شوم، چې زما کار راته بل څوک نه شي ترسره کولای؛ نو هڅه کول مې پیل کړه.
۴- پوه شوم، چې د ژوند پای مې مرګ دی؛ نو ځان مې تیار کړ.
۵- پوه‌شوم، چې ښه او بد هېڅکله نه ورکېږي، بالاخره بېرته زما خواته راګرځي؛ بس نیکي مې زیاته کړه او له بدیو مې ځان وژغوره .
او تر ټولو مهمه؛ چې هره ورځ دا پنځه اصول ځانته بیا بیا یادوم.

## غوره ویناوې

۱. که غواړې زړه دې قوي شي، صبر خپل کړه.
۲. که غواړې الله جل جلاله درسره وي، حق مه پرېږده.
۳. که غواړې ژوند دې آسانه شي، ساده ژوند غوره کړه.
۴. که غواړې د خلکو په منځ کې عزت پیدا کړې، تواضع خپله کړه.
۵. که غواړې له غمونو خلاص شې، شکر ادا کوه.
۶. که غواړې بدۍ درنه لرې شي، ښښنه وکړه.
۷. که غواړې په ټولنه کې نېک نوم ولرې، خپله ژبه تل کنټرول کړه.
۸. که غواړې ګناهونه دې کم شي، تل خپل نظر ټیټ ساته.
۹. که غواړې زړه دې پاک شي، هېڅکله له خپل مسلمان ورور سره کینه مه ساته.
۱۰. که غواړې عمل دې قبول شي، نیت سم کړه.
۱۱. که غواړې ژوند دې سم شي، هېڅکله دروغ مه وایه.
۱۲. که غواړې رزق دې حلال وي، له خلکو سره دوکه او فریب مه کوه.
۱۳. که غواړې الله جل جلاله ته نږدې شې، نفل عبادت زیات کړه.

## ماه غفران میرسد

مژده بادا دل که باز هم ماه غفران میرسد
مغفرت از جانب آن ذات سبحان میرسد
قلب ها آلوده گشته بسکه تکرار شد گناه
صیقلی از بهر آن از سوی رحمان میرسد
میوزد برگوش ما صوت و صدای قاریان
بلبلان خوشصدا مست و غزلخوان میرسد
لحظه های شادیانه دل پر از شوق و امید
مژده ی داخل شدن از باب ریحان میرسد
وقت مغرب چون رسد مهمان خالق میشوی
سفره ها از چارسو بر روزه داران میرسد
آن عدوی جان تو در بند شود از لطف حق
ولچک و زولان بدست و پای شیطان میرسد
خوش بود از عطر مشک و عنبر دهنت بر خدا
این چنین تمجید ببین بر روزه داران میرسد
می تپد در سینه دل تا قدر آن حاصل شود
لیلةالقدرش بخیر بر قدر شناسان میرسد
ای رحیمی دم غنیمت دان، از آن بهره بگیر
سال بعد آیا به تو این سال مهمان میرسد!

**احمد فرید رحیمی**

# Marif
Weekly

کتنپلاوی: شیخ محمد طاؤس «طارق»
مولوي عزيز احمد «ريان»
مفتی حبیب الله «قتاده نوري»
احمد شعیب «حقیقي»
عبدالصبور «غفراني»
محمد نسیم «عیاذ»
مسئول مدیر: سعید «جلال»
انځور اخیستونکی: محمد ادریس «نوري»

صفحه آرا : محمد قسیم «یعقوبي»
شمېر : ۳۰۰۰
پته: کابل ښار، غازي محمد جان خان واټ، د پوهنې وزارت
د نشراتو او عامه اړیکو ریاست، د نشراتو او عامه پوهاوي آمریت

**د پوهنې کاروان مینه والو!**
تاسو کولای شئ خپلې لیکنې، وړاندیزونه او نیوکې په لاندې برېښنا لیک او تلیفون شمېرې له موږ سره شریکې کړئ.
Marifnewspaper1919@gmail.com
د اړیکې شمېره: ۰۷۲۸۴۰۷۲۷۲

Ministry of Education Cultural and Social Issue / Better Education - Better Future / Established 2002, Issue No 319 /2026


# سفر معین محترم تعلیم و تربیه وزارت معارف به ولایت قندهار

محترم شیخ عبدالمالک حقانی معین تعلیم و تربیه وزارت معارف طی یک‌سفر رسمی عازم ولایت قندهار شد، در نشستی که با محترم الحاج مولوی فخرالدین نقشبندی رئیس و آمرین برنامه های ریاست معارف و آمرین مکاتب مرکز آن ولایت داشت، روی اهداف سفر هیئت و ضعیت تعلیمی ولایت یاد شده بحث و گفتگو کرد.

معین محترم تعلیم و تربیه وزارت معارف طی سخنانی به اشتراک کنندگان مجلس، مسئولیت را یک امانت بزرگ خوانده و از آن ها خواست تا مسئولیت‌های اداری و تدریسی خویش را با اخلاص و امانت‌داری کامل انجام دهند.

نامبرده همچنان تأکید کرد که تربیه سالم شاگردان مسئولیت مشترک همه مسئولین معارف می باشد، ازین‌رو هرمسئول باید در ساحه کاری خویش درین راستا کوشش همه‌جانبه نماید.

همچنان رئیس معارف ولایت کندهار نیز طی سخنانی از تطبیق و تعمیل هدایات و اوامر مقام محترم رهبری این وزارت در ریاست ولایت قندهار به هیئت اطمینان داد.

## د اسلامي زده کړو له محترم معین سره د خوست ولایت د یو شمېر دیني علماء کرامو لیدنه





د خوست ولایت یو شمېر علماءکرامو د پوهنې وزارت د اسلامي زده‌کړو له معین محترم الحاج مولوي کرامت الله آخندزاده سره وکتل او د یو لړ موضوعاتو په اړه یې خبرې وکړې.

د اسلامي زده‌کړو محترم معین مېلمنو ته ښه راغلاست ووایه او د هغوی د هغه فعالیتونو ستاینه یې وکړه چې د ټولنې د اصلاح په برخه کې ډېر ګټور تمام شوي.

ورپسې یو تن دیني عالم د نورو په استازیتوب د پوهنې وزارت له محترم معین سره د لیدنې څخه خوښي څرګنده او د خپل اړوند ولایت د ښوونیزو او روزنیزو ادارو، په ځانګړي ډول د اسلامي زده‌کړو په څانګه کې یو شمېر ستونزې د وزارت له محترم معین سره شریکې کړې، چې د پوهنې وزارت د اسلامي زده‌کړو محترم معین لخوا د وړاندې شویو ستونزو د حل ډاډ ورکړل شو.

## سفر رئیس ارتباط خارجه وزارت معارف به ولایت غزنی

محترم مولوی حسیب‌الله صاحب‌زاده رئیس ارتباط خارجه وزارت معارف به



ولایت غزنی سفر نموده و با محترم الحاج مولوی میر نصیر احمد حسینی، رئیس معارف آن ولایت دیدار و گفتگو نمود.

رئیس معارف ولایت غزنی به هیئت یاد شده در رابطه به دست‌آوردهای ریاست معارف و وضعیت عمومی معارف در آن ولایت معلومات ارائه کرد.

در ادامه هیئت اعزامی ضمن ستایش از فعالیت ها و دستاورد های ریاست معارف ولایت غزنی، در مورد مسائل مطرح شده و رسیدگی به مشکلات اطمینان داده و گفت که برای حل مشکلات و چالش های موجود فرا راه روند تعلیم و تربیه، ادارت زیربط باید همکاری و هماهنگی لازم داشته باشند.

## پکتیکا ولایت کې د یوې مدرسې لپاره د لمریزې برېښنا سیستم فعال شو

د پکتیکا ولایت سروبي ولسوالۍ اړوند د «مصباح‌العلوم» دیني مدرسې لپاره د ۲۰۰ زره افغانیو په لګښت د لمریزې برېښنا سیستم نصب او فعال شو.

د سروبي ولسوالۍ پوهنې مسئولین وایي چې، د لمریزې برېښنا دغه سیستم د یو شمېر علم دوسته اوسېدونکو په مالي مرسته فعال شوی دی، هغوی همداراز له هېوادوالو هم غوښتنه وکړه چې د علم او پوهې وده او پرمختګ کې چې د ټولو ګډه مسئولیت دی خپلې مرستې جاري وساتي.

## اخذ امتحان تثبیت سویه از ده ها تن مجاهدین امارت اسلامي در کابل

ریاست تعلیمات اساسی و ثانوی وزارت معارف بر بنیاد طرزالعمل خویش، به منظور فراهم‌سازی تسهیلات آموزشی برای مجاهدین امارت اسلامی افغانستان که به دلیل فعالیت های جهادی در گذشته از ادامه تحصیل باز مانده بودند به هدف شامل‌ساختن آنان در مکاتب رسمی، از ده ها تن مجاهدین امتحان تثبیت سویه در کابل اخذ شد.

محترم مولوی عبدالواحد واحدیار، مسئول هیئت امتحانات ریاست تعلیمات اساسی و ثانوی وزارت معارف حین برگزاری امتحان گفت: داوطلبان که شمار آنان به بیش از ۱۴۰ تن می‌رسد، به دلیل مصروفیت در فعالیت‌های جهادی در گذشته از روند آموزش بازمانده بودند که خوشبختانه اکنون می‌توانند با استفاده از فرصت‌های موجود، آموزش‌های نیمه‌تمام خویش را تکمیل نمایند.



وی افزود، داوطلبانی که در این روند موفق شوند، مطابق سویه تعلیمی‌شان از صنف هفتم تا دوازدهم در مکاتب جذب خواهند شد.

در این حال اشتراک‌کنندگان امتحان نیز از فراهم‌شدن تسهیلات لازم آموزشی برای‌شان ابراز خرسندی کرده و از سایرین مجاهدین که در گذشته به دلیل مصروفیت در فعالیت های جهادی نتوانستند به تعلیمات خویش ادامه دهند خواستند تا با استفاده از فرصت‌های موجود، در بخش های تعلیمات دینی و عصری به آموزش‌های خویش ادامه دهند.

## په ننګرهار ولایت کې د ۲.۷ مېلیونه افغانیو په لګښت د ښوونځي لپاره نوې ودانۍ جوړه شوه

د یو خیریه بنسټ لخوا، د ننګرهار ولایت هسکې مینې ولسوالۍ د غلني لومړني ښوونځي نوې ودانۍ، د ۲.۷ مېلیونه افغانیو په لګښت جوړه او د پوهنې ریاست د مسئولینو په حضور کې پرانیستل شوه.

د ننګرهار ولایت د پوهنې ریاست د مسئولینو د معلوماتو په بنسټ یاده ودانۍ یوه اداري خونه، ۸ درسي ټولګي، انګړ، تشنابونه او نورې اړینې اسانتیاوې لري.

د یادې ودانۍ د پرانیستې په مراسمو کې، د ننګرهار ولایت پوهنې رئیس محترم شیخ محمد شریف حلیمي د مرستندویه بنسټ له مسئولینو څخه مننه وکړه او له سیمه ییزو اوسېدونکو یې وغوښتل چې خپل ماشومان د زده‌کړې ترلاسه کولو په موخه مدارسو او ښوونځیو ته واستوي.



## اخذ امتحان تثبیت سویه از ۲۱۰ تن از فرزندان بازگشت‌کنندگان در کابل

ریاست معارف شهر کابل اعلام کرده است که در مرحله هفدهم امتحانات تثبیت سویه تعلیمی، از ۲۱۰ تن از فرزندان بازگشت‌کنندگان برای شمولیت در صنوف دهم و یازدهم امتحان اخذ شده است.

مسئولان این ریاست می گویند که این امتحان در چارچوب برنامه ادغام آموزشی فرزندان افغانهای برگشته از کشورهای همسایه به افغانستان اخذ شده است.

به گفته مسئولان، از آغاز سال ۱۴۰۴ هـ ش تاکنون در ۱۷ مرحله، از مجموع ۴۸۱۰ تن از اطفال بازگشت‌کننده امتحان تثبیت سویه گرفته شده است. این افراد پس از ارزیابی سطح آموزشی، مطابق به نتایج به‌دست‌آمده در صنوف مربوطه مکاتب شهر کابل جذب شده‌اند. ریاست معارف کابل هدف از برگزاری این روند را فراهم‌سازی زمینه ادامه آموزش برای فرزندان بازگشت‌کنندگان و جلوگیری از وقفه در روند تعلیمی آنان عنوان کرده است. بر بنیاد معلومات این ریاست، امتحانات تثبیت سویه به‌گونه منظم ادامه خواهد یافت تا تمامی اطفال بازگشت‌کننده واجد شرایط، مطابق سطح آموزشی‌شان شامل مکاتب شوند.

## د مدارسو او دارالحفاظونو د کارکوونکو مسلکي وړتیاوو لوړولو په موخه سیمینار جوړ شو

د پوهنې وزارت د اسلامي زده‌کړو معینیت د مدارسو او دارالحفاظونو ریاست، د کابل ښار اړوندو مدارسو او دارالحفاظونو د اداري او اجرائیوي مدیرانو د مسلکي وړتیاوو لوړولو په موخه دوه ورځنی علمي سیمینار جوړ شو.

د یاد سیمینار د پرانیستو په مراسمو کې د مدارسو او دارالحفاظونو رئیس محترم الحاج مولوي عبدالرزاق صدیق یاد سیمینار د موخو او ارزښت په اړه خبرې وکړې او د مدارسو د همغږۍ او اداري پروګرامونو د ادغام او د یو واحد تعلیمي نصاب په جوړولو یې ټینګار وکړ.

په دغه سیمینار کې ګډونوالو ته په تدریس او اداري څانګو کې د اداري او مسلکي موضوعاتو سربېره کړنلاره، د رخصتیو ډولونه، تقاعد او د نویو ټاکل شویو اشخاصو معرفي کول، د حاضرۍ راپورونو چمتو کول، د مالیې محاسبه او معاشونو سیستم تشریح او یو شمېر نور اړین مسایل تدریس شول.

**په ځینو ځایونو کې رواج دی چې ښځینه تر وفات وروسته ضرور باید پلرنۍ (هدیرې) ته انتقال کړل شي او نه انتقال یې د ټول قوم لپاره پېغور ګڼل کېږي چې دا کوم شرعي حیثیت نه لري، بلکې غوره دا ده چې د هغې د خاوند او اولادونو د خوښې په هدیره کې دفن کړل شي.**

د خپښی، ودونو، مصیبتونو او همدا راز له حج او عمرې څخه د راستنېدو پرمهال د ناسمو رواجونو د مخنیوي په هکله د عالیقدر امیر المؤمنین حفظه الله تعالی فرمان